بسم الله الرحمن الرحيم

## په ایران او کردستان کې نوي سیاسي بدلونونه



**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

ایران د ۲۰۱۸ میلادي کال د جنوري پر شپږمه د کردستان اقلیم تورن کړ چې د ایران په وروستیو بدلونونو کې يې لاست درلود او دغه اقلیم د ۲۰۱۸ م د جنورۍ پر اوومه دغه تورونه رد کړل. په عین حال کې، داسې راپوروونه خپاره شول چې ایران هم په هغو لاریونونو کې لاس درلود چې د ۲۰۱۷ میلادي کال د ډیسمبر پر ۱۹مه په سلمانیه ولایت کې پېښ شول. پر همدغه بنسټ، ایا ویلای شو چې د عراق کردستان د ایران په هغو لاریونونو کې لاس درلود چې د ۲۰۱۷ م د ډیسمبر پر ۲۸مه پیل شول او دغه لاریونونه د کردستان په لاریونونو کې د ایران په غبرگون کې وو  او که نه؟ یا په بل عبارت، ایا هغه څه چې په ایران او کردستان کې پېښ شول، د عمل غبرگونونو بڼه لري؟ ایا دغو پېښو کومې کورنۍ انگېزې درلودې او که په بهرنیو خوځښتونو سره تر سره شول. که دغه خوځښتونه بهرني وي، خوځوونکی يې څوک دی او ایا له دغو لاریونونو څخه موخه د ایران او د کردستان اقلیم د حکومتونو بدلول وو، که نه؟

**ځواب:**

دغه دواړې پېښې د عمل او غبرگون له پلوه نه دي او دا چې ایران د کردستان مرکز اربیل تورن کړی، په حقیقت کې هغه سیاسي حیرانتیا ده چې ایران د پېښې د کورنۍ کېدو په دلیل پکې راگیر شوی دی. اربیل اوس له داسې کړکېچ سره مخ کېدونکی دی چې شونې ده نظام یې ونړېږي او په اوس وخت کې په هېڅ ډول د ایران د خلکو د راپارېدو وس نه لري. د ایران لارورکي د مختلفو اړخونو له تورن کېدو څخه پیداکولی شو، لکه څنگه چې یو شمېر ایراني چارواکو پردي ځواکونه تورن کړل. په ملگرو ملتونو کې د ایران استازی غلام علی خوشرو پخپلو څرگندونو کې وویل: «ایران پیاوړي شواهد لري چې لاریون کوونکي په څرگند ډول له بهره رهبري کېدل.» (سرچینه: بي بي سي عربي، ۲۰۱۸ م د جنوري ۷مه) پر همدغه بنسټ، دا چې ایران اربیل تورن کړی، دا هم د همدغې لارورکۍ یوه برخه بلل کېږي. د نظام د مصلحت تشخیص ټولنې رییس محسن رضایي د ۲۰۱۸ م د جنوري پر شپږمه پخپلو څرگندونو کې ادعا وکړه چې د ایران د پېښو سناریو جزیات د عراق د کردستان په اقلیم کې طرحه شوي وو.» (سرچینه: د نن روسیه، ۲۰۱۸ م د جنورۍ ۷مه) خو د عراق د کردستان اقلیم دغه ادعا د کردستان د حکومت د ویاند سفین دزیي په واسطه رد کړه.

د عمل او غبرگون مسله له منځه ځي او ربښتیا دا دي چې دغو دواړو پېښو ځانکړې موخې درلودې؛ په دغه گډ لامل سره چې هره یوه پېښه په کورني ډول او خپله پیل شوه؛ خو بېرونیو لاسوهنو په مختلفو انگېزو ډېر ژر هغه چاپېره کړې او هغو موخو ته یې سوق کړې چې د ایران او کردستان په اقلیم پورې اړه لري. د دغې خبرې شرحه په لاندې ډول ده:

**لومړی د عراق د کردستان پېښې:** مختلفو رسنیو د ۲۰۱۷ م د ډیسمبر پر ۱۹مه د داسې لاریونونو راپورونه خپاره کړل چې ښوونکو او حکومتي کارکوونکو د کردستان په سلیمانیه ښار کې د معاشونو د ځنډ په دلیل سره پیل کړي وو. له دې وروسته د سلیمانه ښار مختلفو څېرو په دغو لاریونونو کې گډون وکړ او ورو ورو یې لمن د اربیل ښار په گډون د کردستان اقلیم نورو سیمو ته هم وغځېده. د دغو لاریونو تر سره کېدل هغه سخت اقتصادي فعالیتونه ښیي چې د دغه اقلیم اوسېدونکي په کرکوک کې د نفتو پر بنسټیزو سرچینو د بغداد تر واکمنۍ وروسته ورسره لاس او گرېوان دي. پر یو لړ اقتصادي فشارونو سربېره، په ځانگړي ډول د بهرنیو الوتنو پر وړاندې په سلیمانیه او اربیل ښارونو کې د هوایي ډگرونو تړل کېدل او د بغداد د هوایي دگرونو له لارې تېرېدو ته د مسافرو اړ کولو؛ چې بهر ته د سفر لړۍ سختوي، د حکومتي خلکو او متنفذینو تندې نیوکې راوپارولې.

د کردستان په اقلیم کې لاریونونه ډېر ژر پراخه شول، په ځانگړي ډول په هغو سیمو کې چې له بارزاني او د کردستان له ډیموکراټیک حزب سره مخالف کرد حزبونه لوی لاس لري. یوه بله مسله چې د خلکو معیشتي حالت یې اغېزمن کړی، له کرکوک ښار څخه اقلیم لور ته د کردانو د کورنیو وتل وو چې د مخالفو کورنیو خوځښتونو له لوري تر سره شول. دغه ټول یاد شوي موارد دا ښیي چې دغه ټول لاریونونه پر کور دننه پیل

شوي دي. دغه لاریونونه په اصل کې هغه نیوکې دي چې د اربیل حکومت ته یې د کردستان د ډیموکراټیک حزب په مشرۍ پام شوی دی؛ هغه حزب چې بارزاني اړیکې ورسره لري. دغه مسله له څو اړخونو څخه درک کولی شو:

الف) دغه لاریونونه په پیل کې له سلیمانیه ولایته پیل شول، هغه ولایت چې د انګلیس له مزدور مسعود بارزاني سره مخالف حزبونه او جریانونه پر هغه واکمني لري. پر همدغه بنسټ، د لاریونونو او بدلون غوښتونکو اصلي مرکز سلیمانیه و او په ملي اتحاد حزب کې د طالباني پیاوړي ځواکونه هم سلیمانیه کې مرکزیت لري او دا ډول حزبونه د خلکو د راپارولو او لاریونو پیلولو وړتیا او وس لري؛ که څه هم د ولایت د ټول حالت د بدلون وس نه لري.

ب) د خود نیجیرفان څرګندونې چې دا ښیي چې لاریونونه یې د حکومت پر وړاندې پیل شوي، لکه څنګه چې د کردستان باسنیوز انټرنېټي پاڼې د ۲۰۱۷ م د ډیسمبر پر ۲۱مه داسې خبر ورکړ: «د کردستان د اقلیم رییس نیجرفان بارزاني د اقلیم پر وړاندې د لویې دسیسې له شتون څخه خبر ورکړ او ویې ویل چې دغه دسیسه تر هغه لویه ده چې تصور یې کېږي.» همدارنګه نوموړي هغو اړخونو ته اشاره وکړه چې په اقلیم کې د ستونزې پیدا او لاریونونه یې له خپل مسیر څخه منحرف کړي او تاوتریخوالي ته لمن وهي. نوموړي زیاته کړه: «په کردستان کې پټ لاسونه د ستونزو راپیداکېدو هڅې کوي او موږ به یې د مخنیوي لپاره هڅې وکړو.» نوموړی پرته له دې چې د کوم چا نوم واخلي، دغو جریانونو ته اشاره وکړه چې د دغو ستونزو له راپیداکېدو ملاتړ او په دې برخه کې هڅې کوي؛ خو ده زیاته کړه چې د دغه اقلیم ځواکونه به په جدي ډول له دغو ټولو جریانونو سره چلند وکړي. بارزاني زیاته کړه چې موږ له جدي ګواښونونو او لویو دسیسو سره مخ کېدونکي یو او هغه څه چې په سلیمانیه کې پېښ شول، د خلکو د امنیت ګډوډولو لپاره یو ډول هڅې دي. نوموړي له خلکو غوښتنه وکړه چې یووالی یې وساتي او یو بل ته لاسونه ورکړي چې دغه حالت کابو کړي.

بارزاني په دغو څرګندونو سره کرد حزبونو ته اشاره کوي چې په ټول وس یې په سلیمانیه کې د کردستان له ټولپوښتنې سره مخالفت وکړ او داچې له امریکا او په بغداد کې د امریکا له ملاتړو سره اړیکې لري، هغه حزب چې د بارزاني د حکومت پر وړاندې یې لاریونونو ته لمن ووهه، د تغیر حرکت حزب دی؛ هغه حزب چې له ملي اتحاد حزب څخه تر بېلتون وروسته د ۲۰۰۹ م کال د ټاکنو تر ټولو لوی سیاسي قدرت بلل کېده. دغه حزب د جماعت اسلامي او کوران حزب په رهبرۍ سره له لاریونونو وروسته له حکومته خپل ځان بېل کړ او یاسین حسن چې د دغه حزب یو رهبر دی، له جزیرې خبري شبکې سره یې په خبرو کې وویل: «اسلامي جماعت او د بدلون حرکت وروسته له دې چې پر لاریونوالو ډزې وشوې، هوډ یې نیولی چې په بشپړه ډول له دغه حکومته بېل شي او له حکومته غواړم چې ژر تر ژره منحل شي او پر ځای یې د ملي ژغورنې حکومت جوړ شي.» (سرچینه: الجزیره نټ، ۲۰۱۷ د ډیسمبر ۲۱)

په ورته وخت کې د بي بي سي خبري شبکې هم د ۲۰۱۷ م د ډیسمبر پر ۲٦مه د عراق د کردستان پارلمان د رییس یوسف محمد، چې په عین حال کې د بدلون خوځښت حزب یو رهبر دی، د استعفا خبر ورکړ چې د لاریونونو پر وړاندې د اربیل د حکومت کمزوري دریځ په موخه تر سره شوه. په دغه خبر کې ویل شوي دي: «د عراق کردستان اقلیم پارلمان رییس په دې دلیل سره چې نوموړي دغه استعفا پر قانوني حکومت د ځینو خلکو او ځانګړو جریانونو واکمني وبلله، له خپلې دندې استعفا وکړه. یوسف محمد په تنده لحجه سره د دغو خلکو په لاس کې د سیاسي او اقتصادي واک پر انحصار، خاوره، پانګه او د ژوند په نورو برخو نیوکه وکړه او ویې ویل: «هغوی پر ټول اقلیم د دغو امکاناتو د عادلانه وېش پر ځای، د خپل ځان کړي دي. نوموړي زیاته کړه چې د امریکا متحده ایالاتونو دریځ چې له ټولپوښتنې سره یې مخالفت ښودلی و او د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر په لیک کې هغه ته اشاره شوې وه؛ یوه طلایي موکه ده چې د اقلیم حکومت یې باطل وباله.» (سرچینه: بي بي سي، ۲۰۱۷ م د ډیسمبر ۲٦مه) دغه څرګندونې په ښکاره د دې ښکارندویي کوي چې دغه کس او خوځښت له هغه سره اړیکه لري.

ج) په همدغه ترتیب، له سلیمانیه ولایت څخه د لاریونونو پیل، چې د بارزاني د مخالفو حزبونو په واک کې دی، په دغو لاریونو کې د یاد حزب د یو شمېر رهبرانو ګډون، د امنیتي ځواکونو له خوا د یو شمېر رهبرانو نیول، د کمزوري کېدو په موخه د اربیل له حکومت څخه د یادو حزبونو وتل، له حکومته دا غوښتنه چې منحل شي، د پارلمان د رییس استعفا دغه ټول دا ښیي چې که څه هم په کردستان کې په پیل کې لاریونونه په لوړه کچه پیل شول؛ خو ډېر ژر د بهرنۍ لاسوهنې په مرسته یې لوری وګرځول شو او د دغې لاسوهنې موخه د هغو موخو رښتیا کېدل وو چې د دغه اقلیم په چارو پورې اړه لري. دغه لاسوهنه د کردستان د کورینو ډلو د فشارونو هغه پایله ده چې د بارزاني د نفوذ مخالفه ده او په اربیل کې د بارزاني د حکومت تیت پرک کېدو په موخه د بغداد فشارونه وو.

پر دغو فشارونه سربېره، په ترکیه، ایران او بغداد کې هم داسې غبرونه اورېدل کېدل چې د ټولپوښتنې د مسولینو د محاکمه کېدو غوښتنه یې کوله. ښکاره ده چې دغه ټول حزبونه او سازمانونه په امریکا پورې اړه لري. نو پر همدغه بنسټ، طبیعي ده چې امریکا به له خپلو کورینو او سیمه ییزو مزدورانو څخه د بارزاني پر حکومت د فشار په موخه او په اربیل کې د انګلیس د نفوذ پای ته رسېدو لپاره کارواخلي او که بریالۍ نه شي، یاد حکومت به ډېر ژر نسکور کړي. اوس هڅې کوي چې په دا ډول اقدامونو سره په راتلونکې کې د دغه حکومت د له منځه تلو زمینه برابره کړي. دغه مسله  په سیمه کې د ټرامپ د حکومت اداري د هغه سیاست تر سیوري لاندې او د امریکا په لومړي شعار سره څېړلی شو، څکه امریکا د انګلیس د مزدورانو تر واکمنۍ لاندې سیمو کې د سیاست په نفوذ سره بسنه نه کوي؛ بلکې که د امریکا ګټې وغواړي، په دغو سیمو کې د انګلیس مزدوران او پلویان محاکمه او حتی له منځه یې وړي. لکه څنګه چې په سعودي عربستان کې له فساد

سره د مبارزې په پرګرام کې چې پېښ شول او په اوس وخت چې د یمن په صنعای کې د ملي کنفرانس له رهبرانو سره د صالح تر وژل کېدو وروسته پېښ شول. دا هغه واقعیت و چې په اغلب ګمان په کردستان کې پېښ شو او تر اوسه دوام لري.

**دویم) د ایران پېښې:** هغه لاریونونه چې د ۲۰۱۷ م په ډیسمبر کې په ایران کې پیل شول، په حقیقت کې د ناوړه اقتصادي حالت، د خلکو معیشتي حالت، د بېکارۍ کچې لوړېدو، د لوږې ډېرېدو او د لومړنیو توکو بیې لوړېدو په غبرګون کې وو. څنګه چې راپورونه ښیي چې د بېکارۍ کچه بېساري لوړه ده، په داسې کچه چې د کورنیو چارو وزیر عبدالرضا رحماني فضلي د ۲۰۱۷ م د اکتوبر پر لومړۍ نېټه په خبري کنفرانس کې وویل: «اوس مهال د بېکارۍ کچه ۱۲ سلنې ته رسېږي، په داسې حال کې چې د ایران په ځینو برخو لکه هواز، کرمانشاه او بلوچستان کې ۶۰ سلنې ته رسېږي. هغه کسان ډېر بېکاره دي چې له پوهنتونونو څخه فارغ شوي او سندونه یې په لاس کې دي.» (سرچینه: العربیه، ۲۰۱۷ م د اکتوبر ۲مه) راپورنه ښیي چې د پوهنتونونو ۲۱ سلنه فارغان بېکاره دي او ۱۵ میلیونه ایراني وګړي د لوږې تر کرښې لاندې ژوند کوي. دا په دې مانا ده چې په دغه هېواد کې د پانګوالي نظام پلي کېدل، خلک له منفي پایلې سره مخ کړي دي، په نورو هغو هېوادونو کې هم دغه حالت روان دی چې دغه نظام ورباندې پلی کېږي. له هغه وخته چې په ایران کې د پانګوالی اقتصادي نظام پلی کېږي، پانګې په سم ډول نه دي وېشل شوې او ډېرو هغو کسانو ته ورکول کېدې او دغه پانګوال دي چې نور هم شتمن او بډایه کېږي. سودي بانکونه فعالیت لري، د پیسو په نړیوال صندوق پورې اړوند د پانګوالی مالي نظام پلی کېږي. د ۲۰۱۷ م د ډیسمبر پر ۱۸مه د پیسو نړیوال صندوق پلاوی تر دغو پېښو وړاندې تهران ته ولاړ او د دغه پلاوي مشر کاتریونابیرفیلډ ایراني چارواکو ته داسې وویل: «کوم ناباوره حالت چې اوس په یران کې دی، هغو ګواښونو ته په کتو چې د ایران مالي نظام اوس ورسره مخ دی، نو غوره ده چې د ایران حکومت ژر تر ژره د امانتي موسیسو او د بانکونو پانګو جوړښت نوی کړی.» نوموړي زیاته کړه: «غوره دا ده چې ژر تر ژره د اصولو او د پورونو ارزونې په کیفیت او د بانکونو د پانګې نوي کولو په موخه د ځانګړې طرحې او پورونو ته د رسېدو په موخه اقدام وشي. د بانکونو د پانګې نوي کولو لګښت د اوږدمهاله حکومتي چکونو له لارې برابرولی شو.» (سرچینه: د ایراني العالم ټلویزیون رسمي پاڼه، ۲۰۱۷ م د ډیسمبر ۱۹مه) له شک پرته چې د حکومت په مرسته به د دغو غوښتنو پلي کېدل د بیو لوړېدو، د بېکارۍ او لوږې ډېرېدو لامل شي او په دغه صورت کې طبیعي ده چې خلک د لوږې په لومه کې راښکېلېږي؛ وروسته خلک د نظام پر وړاندې قیام کوي او له هرې شونې لارې خپلې ستونزې ښکاره کوي.

په همدغه ترتیب، لاریونونه د ایران له مشهد ښار څخه پیل شول او هغه شعارونه چې هلته ورکول کېدل، د بیو لوړېدو په اړه شعارونه وو؛ خو په چټکۍ سره د دغو لاریونونو لمن نورو ډول ډول ښارونو ته، چې شمېر یې

۸۰ ښارونو او ښارګوټو ته رسېده، پراخه شوه او زرګونه ځوانانو او کارګرې طبقې د چارواکو د فساد، بېکارۍ او د بېوزلو او پانګوالو تر منځ يې د پانګې نه برابرۍ پر وړاندې شعارونه ورکول.

د ايران له عدالت او رښوالي څخه د ساتنې سازمان ادارې رييس احمدتوکلي د ۲۰۱۷ م د ډيسمبر پر ۳۰مه له فارس خبري اژانس سره په خبرو کې وويل: «دغه لاريونونه په درېيو دليلونو سره پيل شول؛ لومړی: د پيسو نړيوال صندوق سخت اقتصادي سياستونه، دويم: په اقتصادي ستونزو کې د حکومت او چارواکو کمزوري، درېيم: د حکومت له خوا د تر سره شوو هوکړو پر وړاندې د ځواب او رښوالي نشت.»

که چېرته پر يادو مواردو هغه پيسې ور زياتې کړو چې ايران يې په لبيان، سوريه او يمن کې پر خپلو ملېشو او پلويانو لګوي، له شک پرته چې لويې اقتصادي ستونزې به رامنځته کړي؛ د ايران د خلکو ملا ماتوي او هغوی اړ کوي چې لاريونونه پيل کړي او حتی حکومت د خلکو د معيشت په چارو کې په خيانت تورنوي. عربي ټلويزيون د ۲۰۱۸ م د جنوري پر لومړۍ نېټه پخپل خبر کې وويل: «ډېری ايرانيان په غزه کې له حماس ډلې، په لبنان کې له حزب الله، په سوريه کې د بشار له حکومت او په يمن کې له حوثيانو سره د دوی د حکومت مرسته غير اړينه بولي او حتی دغه کړه خيانت بولي.» ياد موارد په ښکاره دابښيي چې په ايران کې د لاريونونو اصلي دليل اقتصادي مسله ده، خو حکومت په زور له هغوی سره ناوړه چلند وکړ چې په پايله کې يې يو شمېر کسان ووژل شول. بي بي سي عربي د ۲۰۱۷ م د جنوري پر ۷مه پخپل خبر کې وويل: «يو شمېر راپورنه ښيي چې د لاريونونو له پيله تر اوسه تر ۱۷۰۰ ډېر کسان نيول شوي دي. څنګه چې ټول پوهېږي، که اقتصادي لاريونونو ته سم لاس رسی ونه شي او يا يې حل کول وځنډېږي، په ځانګړي ډول که په زور له هغوی سره ناوړه چلند وشي، داسې لاريونونه ډېر ژر په سياسي لاريونو بدلېږي او رښتيا هم دغه هغه څه وو چې د ايران په لاريونونو کې پېښ شول. څنګه چې د حکومت پر وړاندې د اقتصادي شعارونو تر څنګه سياسي شعارونه هم ورزيات شول او په سيمه ييزو جګړو کې د ايران د حکومت پر لاسوهنه او ميلياردونه ډالرو لګښت نيوکې وشوې او د دولت سياسي مخالفې تګلارې ډېر شوې او پر حاکم نظام بريد وشو. هغه وو چې بيا اورپا او امريکا په ايران کې له پېښو شوو پېښو ګټه اخيستل پيل کړل؛ لکه څنګه چې اروپايي رسنيو په ځانګړي ډول د انګليس رسنيو لکه د برېټانيا راډيو او ټلويزيون هغه ته لمن وهله.

د فرانسې ولسمشر ايمانويل ماکرون هم پخپل وار د هغې پوښتنې په ځواب کې چې د «الحياة» خپرونې خپره کړه، د ايران د پېښو په اړه وويل: «دغه لاريونونه د ايران مدني ټولنه نندارې ته وړاندې کړه او دغه مسله د دغه لامل شوه چې د ايران له ولسمشر روحاني سره اړيکه ونيسم او نوموړي ته دغه يادونه وکړم چې بايد له تاوتريخوالي نه ګټه وانه خلي او بايد د بيان ازادۍ ته، چې د خلکو حق دی، درناوی وشي. اوس په تمه يم چې ايران له لاريون کوونکو سره سم چلند وکړي، تر څو پر دې وتوانېږو چې پر حالاتو کنټرول پيدا کړو.»

نوموړي له ایران سره د دوامداره خبرو غوښتنه وکړه، خو د اروپا لاسوهنه او له دغو پېښو څخه گټه اخیستل، د ژوري څېړنې ارزښت نه لري.

هغه څه چې د ژورې څېړنې ارزښت لري، دغې قضیې ته د امریکا رادانگل دي، ځکه د امریکا ولسمشر ټرامپ د ۲۰۱۸ م د جنوري پر لومړۍ نېټه پر خپل ټویټرپاڼه ولیکل: «د ایران لوی ملت کلونه کېږي چې غړونه یې چوپ کېږي، په داسې حال کې چې له لوږې ځورېږي او د ازادۍ تږي دي. د ایرانیانو پانگې لوټ کېږي او بشري حقونه هم تر پښو لاندې کېږي. دا یې د بدلون وخت دی. ایران پر هغې وحشتناکې هوکړې سربېره چې د اوباما ادارې ورسره لاسلیک کړه، په ټولو برخو کې ناکام دی.» د سپینې ماڼۍ نشراتي سکرتر هم پخپلو څرگندونو کې وویل: «د ټرامپ د حکومت اداره د هغو راپورونو په اوربېدو سره چې ښیي د ایران حکومت په رزگونه هغه کسان بندیان کړي چې په سوله ییزو لاریونونو کې یې گډون کړی، د سختې اندېښنې احساس کوي.» نوموړي زیاته کړه: «موږ به هم چوپ پاتې نه شو، ځکه د ایران نسکورونکي حکومت تل د یاد هېواد د اوسېدونکو حقونه تر پښو لاندې کړي او خلکو ته د هر ډول زیان پېړه به د دغه نسکورونکي هېواد پر غاړه وي.» (سرچینه: العراق انټرنېټي پاڼه، ۲۰۱۸ م د جنوري ۱۰مه)

په همدغه ترتیب، ډېری امریکایي چارواکي او په سر کې یې ټرامپ، له همغې لومړۍ ورځې له لاریون کوونکو ملاتړ څرگند کړ. په ملگرو ملتونو کې د امریکا استازې نیکي هیلي د جمعې په ورځ د امنیت په شورا کې وویل: «واشنگټن د ایران د لاریون کوونکو تر څنگ دی، هغه لاریونوال چې د خپلو ځانونو او کورنیو لپاره غوره ژوند او ازادي غواړي. امریکا د ایران د لاریونو په اړه د امنیت شورا د ناستې تر سره کېدو غوښتنه وکړه او دغې بلنې د يادې شورا یو شمېر غړي په غوسه کړل، د هغوی له ډلې روسیه چې استازي یې د ایران لاریونونه کورنۍ مسله یاده کړه.» سرچینه: بي بي سي عربي، ۲۰۱۸ م د جنوري ۷مه)

دا چې واشنگټن د ایران په اړه د امنیت شورا د ناستې رابللو غوښتنه کړې، هغه دلیل ښیي چې امریکا د دغو لاریونو پر څپو د واکمنۍ هڅې کولې؛ په ځانگړي ډول هغه بېړه چې په دغه بلنه کې یې ترې کار واخیست، په داسې کچه چې د دغه سازمان نور غړي حیران شول. بي بي سي عربي د ۲۰۱۸ م د جنوري پر ٦مه پخپل خبر کې داسې وویل: «د امنیت شورا غړي د ایران د لاریونو څېړنې لپاره د امنیت شورا د بېړنۍ غونډې جوړېدو په اړه حیران شول او دې ته اړ شول چې له دغې ناستې سره د مخالفت په دلیل سره فشار راوړي. د ملگرو ملتونو سرمنشي په دغه ناسته کې وویل: «واشنگټن له کوم شک پرته په ایران کې د مېشتو هغو وگړو تر څنگ ولاړ دی چې د خپل ځان او کورنیو لپاره شخصي ازادي او ښه ژوند ته لاس رسي پیدا کړي.» اوس دلته دا پوښتنه رامنځته کېږي چې ایا امریکا د لاریونوالو د دریځ منلو تر څنگ د ایران د حکومت نسکورېدو په لټه کې ده او که د ایران پر لاریونونو له واکمنۍ څخه د امریکا موخه بل څه ده؟ د دغې پوښتنې په ځواب کې وایو:

دغه ادعا چې امریکا د ایران له لاریونونو څخه ملاتړ وکړ، تر څو د ایران حکومت بدل کړي، ډېره لېرې تر سترګو کېږي. دې ته په ګتو سره چې پخپله ژبه یې پر دغې مسلې اعتراف وکړ، څنګه چې د ایران او عراق په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر مرستیال له «الحیاة» خپرونې سره د ۲۰۱۸ م د جنوري پر ۴مه پخپلو خبرو کې وویل: «موږ یوازې له لاریون کوونکو څخه د ملاتړ او انساني حقونو ته د درناوي په اړه خبرې کوو او په پایله کې غواړو دا وګورو چې حکومت په ډېرو مواردو کې خپل چلند بدل کړي؛ په ځانګړي ډول له لاریونوال سره. نوموړي ټینګار وکړ چې د امریکا د حکومت اداره د ایران د حکومت چلند بدلېدو غوښتنه کوي، نه دا چې حکومت بدل شي.»

پر همدغه بنسټ، د ایران د حکومت پر وړاندې د امریکا رول ښکاره دی او موږ د هغې پوښتنې په ځواب کې چې د ۲۰۱۳ م کال د اګسټ پر ۲۱مه مو خپره کړې وه، ویلي وو: «د ایران د انقلاب پر وړاندې د امریکا رول له همغه پیله روښانه دی. ټول هغه فعالیتونه چې امریکا په سیمه کې تر سره کړل، دا ټول له امریکایي پروژو سره په همغږۍ وو... .» همدارنګه په یوه بله پوښتنه چې د ۲۰۱۷ م د فبرورۍ پر ۲۳ مه خپره شوه، هلته مو ویلي وو: «په سیمه کې د ایران رول په حقیقت کې د امریکا سیاست دی چې په غور سره څېړل شوی او برابر شوی دی او دغه رول د امریکا سیاست او شرایطو ته په کتو سره ځیني وخت پیاوړی او ځیني وخت کم رنګه کېږي.» پر همدغه بنسټ، له لاریونوالو د امریکا ښکار ملاتړ هېڅ وخت د حکومت بدلون په موخه نه دی. پوښتنه دا ده چې امریکا ولې دا هڅه وکړه چې لاریونونه تر خپل واک لاندې راولي، ځواب یې دوې مهمې موخې دي:

لومړی) د فلسطین له قضیې او د قدس په اړه د ټرامپ له وروستیو څرګندونو څخه د عامه فکرونو اړول او سیمه د ایران په موضوع ګرمول؛ تر څو ایران په سیمه کې د یو دښمن په صفت راښکاره شي او په همدغه ترتیب عام فکرونه پر ایران متمرکز شي او د یهودو پر اشغالګر رژیم تمرکز له منځه ولاړ شي.

دویم) په سیمه کې د امریکا د مزدورانو د پاتې شونو دلیل او له امریکا څخه د هغوی اطاعت: دا په دغه دلیل سره چې امریکا د ایران او ناوړه ګواښونو پر وړاندې له هغوی څخه ملاتړ کوي. د قدس په اړه د ټرامپ څرګندونې او داچې دغه ښار د یهودو دولت پلازمېنه دی، له مومنینانو سره د امریکا د ښکاره دښمنۍ څرګندونه کوي. هغه څرګندونې چې زموږ په مخکښې منشور کې مو د ۲۰۱۷ م د ډیسمبر پر ۷مه ویلي وو: «د مسلمانانو لپاره یې د امریکا د مزدورانو لاسونه اوږده او هغوی یې سخت رسوا کړل، ځکه قدس د مسلمانانو په زړونو او فکر کې ځای درلود او د ټرامپ د څرګندونو پر وړاندې د دغو مزدورانو وژونکې چوپتیا او د امریکا د مزدورۍ دوام، هغه لویه رسوایي ده چې د دغو مزدورانو لمن یې نیولې ده.» په همدغه بنسټ، د ایران پر وړاندې د ټرامپ تندې نیوکې هغه دېوال ته ورته دي چې دغه مزدور حکام یې د خپلو پاتې شونو د دلیل لپاره د امریکا د مزدور په توګه په امریکا پسې تر سره کوي او د قدس په اړه د ټرامپ د خاینانه څرګندونو پر

وړاندې خپله چوپتیا هغه دلیل کوي او ادعا کوي چې تړامپ له هغوی څخه د خپل دښمن پر وړاندې دفاع کوي؛ په داسې حال کې چې دغه عذر له گناه څخه بد دی.

﴿وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ وَإِن يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّى يُؤْفَكُونَ﴾

[منافقون: ۴]

***ژباړه:*** *ته که دوی ووینې، څېرې به یې ډېرې ښایسته درته معلومې شي، که وغږېږي، خبرو ته به یې غوږ ونیسې، خو په اصل کې دوی د لرگي کوندې دي، چې له دېوال سره په منظم ډول درول شوي وي. دوی هر زوروور غږ د ځان پر وړاندې گڼي او پاخه دښمنان دي. له دوی څخه ځان وساته، الله سبحانه وتعالی دې دوی ووژني، چې څه ډول له حقیقته گرځول شوي دي.*

په غالب گومان سره دا د هغه څه واقعیت و چې په ایران کې د کورنیو لاریونو او د دغو لاریونونو په اړه د بهرنیو څرگندونو په اړه پېښو شو او پېښېږي.

په وروستیو کې باید وویل شي چې اسلامي خاورو او برخلیک ټاکونکو چارو ته د ښکېلاکگرو کفارو لاس غځول او لاسوهنې دلیل دا دی چې احمق او ځان پلورلي مشران د مسلمانانو پر چارو واکمني پیدا کړې او د اسلام او مسلمانانو له دښمنانو سره ملگري کوي او هغوی ته پنا وړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم له ابي هریره رضی الله عنه څخه د احمد په روایت سره په حدیث شریف کې په دې اړه گواښ کړی او فرمایي:

«إِنَّهَا سَتَأْتِي عَلَى النَّاسِ سِنُونَ خَدَّاعَةٌ يُصَدَّقُ فِيهَا الْكَاذِبُ وَيُكَذَّبُ فِيهَا الصَّادِقُ وَيُؤْتَمَنُ فِيهَا الْخَائِنُ وَيُخَوَّنُ فِيهَا الْأَمِينُ وَيَنْطِقُ فِيهَا الرُّوَيْبِضَةُ قِيلَ وَمَا الرُّوَيْبِضَةُ قَالَ السَّفِيهُ يَتَكَلَّمُ فِي أَمْرِ الْعَامَّةِ»

***ژباړه:*** *له شک پرته چې پر مسلمانانو به له دوکې ډک گلونه تېر شي، چې هلته به درواغ منل او رښتیا ویل له درواغو کېږي، پر خاین به باور کېږي او امین به خیانت کوونکی معرفي کېږي او (رويبضه) په هغه وخت کې خبرې کوي. وویل شول: رويبضه څوک دی؟ ویې ویل: هغه ناپوه انسان دی چې د عامو خلکو په چارو کې نظر ورکوي او په دې اړه خبرې کوي.*

نو پر همدغه اساس، د اسلامي امت تر ټولو لوی مصیبت اوس همدا خاین حکام دي، خو دا باید هېره نه کړو چې دغه امت هغه غوره امت دی چې الله سبحانه وتعالی رالېږلی تر څو نړیوال ښکېې او ښې لارې ته راوبولي او هېڅ وخت به د دغو ظالمو او خاینو حکامو پر وړاندې چوپ نه شي. څنگه چې رسول الله صلی الله علیه

وسلم له جبريه حکومتونو څخه وروسته د راشده خلافت د نوي تاسيس زيری ورکړی او د مام احمد او طيالسي په مسند کې له حذيفه بن اليمان څخه په نقل سره فرمايي:

**«... ثُمَّ تكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً، فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تكُونَ، ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا، ثُمَّ تكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ نُبُوَّةٍ»**

ژباړه: وروسته به ظالم حکومتونه راشي او تر هغه چې الله سبحانه وتعالی وغوښتل، دوام به وکړي. وروسته هر وخت چې وغواړي هغه له منځه وړي او وروسته به د نبوت پر تګلاره خلافت تاسيس شي.

**۱۴۳۹ هـ.ق د بيع الثاني ۲۴مه**

**د ۲۰۱۸ م د جنوري ۱۱مه**